# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com


| | |
|---|---|
| کودکان | Children |

## مخکښ شهید (دویمه برخه)

**لوچیاپن**


**ژباړه: فرهاد ویاړ**



تر دې چې بالاخره یوه ورځ سپي هغه وخړو. شلیدلې شلیدلي جامې ورته لا وشلولې او د پښې یو دوه ځایونه ورته هم ژوبل کړل.



په ۱۹۴۹ کال کې کمونیست ګوند د مرتجعینو د ړنګولو لپاره د هیواد ټول وګړي رهبري کړل. هغه کلی، چې لیوون – هسو په کې ژوند کاوه، هم آزاد شو. هسو چې له خوشالۍ په جامو کې نه ځایده، په لیوالتیا د پوځ هرکلي ته لاړ.



يو شمیر کسانو د ارضي اصلاحاتو د پلي کیدو لپاره د کلیو لاره ونیوله او د کلیوالو منځ ته لاړل. هغوی له غریبانو سره اړیکي ونیولي او د کلیوالو د تیرو دردونو او رنځونو په اړه یي پوښتني کولی او ولسونه یي د اربابانو په وړاندې مبارزې ته وهڅول.




د مبارزې په غونډه کې، هغه کلیوال چې په بیرحمی استثمار شوي ول، بیوزله او د ستم تر لاندې دهقانانو او همدا شان د منځني طبقې کروندګرو د اربابانو له جنایتونو پرده پورته کړه.

لیوون - هسو خپله پښه چې د ارباب سپي داړلی وه، وښوده. هغه همدا شان توضیح ورکړه چې څرنګه اربابان بی له کوم علته بیچاره خلک وهي.



په دې وخت کې ناڅاپي د غونډې له منځه يو غږ راپورته شو:«مړه دې وي اربابان!» د طبقاتي دښمن په وړاندې د جګړې لپاره، ځواکمنې مبارزې په بشپړ ډول شکل وموند او پياوړی شوه.



ارضي اصلاحات په بریالیتوب پای ته ورسیدل. بیوزله کلیوال د ځمکې څښتن شول او په خپلو ځمکو یې کار کاوه. د لیوون ـ هسو کورنۍ ته هم یوه ټوټه ځمکه او یو کور چې د ژوندانه لپاره یې بس وه، ورسیدل.



**د انقلاب څخه مخکې، د ښوونځيو ورونه د غريبو ماشومانو په مخ تړلي ول. اوس کوچنی ون هسو نوې جامې اغوستلې، بکسه يې اوږې ته اچوله او ښوونځي ته روانيدو.**



ون ـ هسو په سرلوړی د ځوانو مخکښانو سره یوځای شو. سور دستمال یې غاړې ته وتړو او تابیه یې وکړه چې «ښه مطالعه وکړي او هره ورځ یو ګام مخې ته کیږدي» څو یو وړ مخکښ شي.